# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Human rights | حقوق بشر |
|---|---|

محمد هارون خپل شعشعی
۲۷ فبروری ۲۰۱۳

# په افغانستان کي د يرغلګرو لښکرو
# د بشري ضد او جنګي جنايتو حقوقي شننه
# ۱۶

## نتیجه

د دي رسالي په بېلابېلو برخو کي مو د استعماري دولتو له يرغلګرو جنګو او ناروا لاسوهنو سره د بشري ضد او جنګي جنايتو د مستقيمو او نه شلېدونکو اړيکو په اړه اورږدي خبري وکړې؛ او په دې واقعيت و پوهېدو، هر وخت چي استعماري دولتو د خپلو کرغېړنو هدفو د تحقق دپاره پر خپلواکو هيوادو او ازادی غوښتونکو اولسو ظالمانه بريدونه کړي يا يي په کورنيو چارو کي ناروا لاسونه وهلي دي، ور سره جوخت د بشري ضد او جنګي جنايتو، بلکي سلو نورو سياسي، اجتماعي، اقتصادي او فرهنګي ناوړينو توخمونه هم کرل سوي دي. البته، بشري ضد او جنګي جنايتونه پر دباندنيو عواملو سربېره کورني عوامل او علتونه هم لرلای سي، چي کله په خپلواک او کله هم له دباندنيو عواملو سره په ګډه عمل کيي...

په دي شننه او سپنه کي مو دا هم وليدل، چي استعماري دولتونه په خپلو يرغلګرو جنګو ، ناروا لاسوهنو او پراختيا غوښتونکو نخشو کي د نيول سوو يا ځبل سوو هيوادو و مظلومو خلګو ته د سر او مال پر سترو او نه رغېدونکو تاوانو سربېره د خپلو بېوزلو خلګو و ژوند او سوکالی ته هم هيڅ پروا نه کيي؛لکه څنګه چي يي د همدغو هدفو او مخسدو دپاره يوازي تر دي دمه په افغانستان کي دری زره دوه سوه يوويشت ( ۳/۲۲۱ ) او په عراق کي څلور زره اته سوه و څلور( ۴/۸۰۴ ) پوځيان له لاسه ور کړي دي.[۱۰۲] د ټپيانو، ځانوژونکو او روحي ناروغانو شمېر خو يي تر انده پاس دئ. ببله شکه، د خپلواکو ملتو د اشغالولو، اېل کولو او لوټولو دغو ظالمانه جګړو او لاسوهنو د استعمارګرو دولتو پر اقتصاد هم خورا درانه ګوزارونه کړي دي. که له حقيقته سترګي پټي نسي د روان نړيوال اقتصادي بحران، په تېره بيا د غربي هيوادو د اقتصادي نظام د ورځ په ورځ ويجاړېدونکي حالت تر ټولو لوی او اساسي سَوَب هم همدا ناروا او ظالمانه استعماري جنګونه دي، چي د بين المللي سولي او امنيت د ټينګښت، د هيوادو د نيژدي والي، د متقابل باور د زياتېدو، د کرهنې، صنعت او سوداګری د پراختيا او بالاخره کاري فرصتو او امکاناتو د پيدايښت او ودي مخه يي نيولي ده. يرغلګر جنګونه، نړيواله بي ثباتي، د لويو بانکو او مالي ادارو فساد، درغلي او لاپروايي، اقتصادي فقر او بالاخره انساني ناورينونه ګرده د ځنځير د حلقو په شان يو له بل سره تړلي دي. دې ټولو په ګډه د د روان لوی او ژور نړيوال اقتصادي بحران له عمر زياتولو سره مرسته کړې ده. يوازي د استعماري دولتو په چوپړ کي ولاړه ميديا،

جنګ غوښتونکي او مافیایي ډلي ټپلي د نړۍ د میلیونو کړېدلو او نېستمنو انسانانو د ژوندانه د بربادۍ او خرابی دا مهم او ټاکونکی عامل( استعماري جنګونه ) پر خوله نه راوړي؛ ځکه په جنګ، انسان وژنه او تورو معاملو کې داسي ګټي وټي تر لاسه کیي، چي د سولي او ارامی په شرایطو کي په خوب هم نسي لیدلای. تصور وکئ امریکایي پوځ و هغه تش  په نامه افغان ترجمان ته د کاله څه باندي دری لکه ډالره تنخا ور کیي، چي د امریکا په تاوده بازار کي د کاله دېرش زره ډالره نسوای پیدا کولای. دا لکونه له کمه کیږي؟! د یوه ساده او بېچاره افغان ترجمان له دې تنخا څخه د امریکایي لښکرو د سرسامبوونکو خرڅونو اندازه په ډېره اسانی اټکل کېدای سي. د امریکا پخواني دولتمشر، جورج ډبلیو بوش، د افغانستان او عراق د جنګو عمومي لګښت ګرسره پینځوس- شپېته ( ۵۰ - ۶۰ ) میلیارډ ډالره اټکل کړئ ؤ، چي د امریکا په دولتي بودجه کي د مچ وزر ښکارېدئ؛ حال دا چي د بین المللي څېړنو دپاره د براون پوهنتون د واټسن اینستیتوټ د ۲۰۱۱ع کال یوې څېړني په دغو دوو هیوادو کي د امریکایي جنګو خرڅونه څلور اعشاریه څلور( ۴/۴ ) ټریلیونه یا څلور زره څلور سوه میلیارډ ډالره اټکل کړي دي، چي د ټپي سوو پوځیانو د روغتیایي خدمتو خرڅونه او د افغانستان د بیاجوړولو مرستي ګرده ځني وتلي دي. د امریکا نامتو اقتصادپوه- جوزیف سټېګلیټز(Joseph Stiglitz) یوازي د عراق د جګړي خرڅونه دوه اعشاریه دوه( ۲/۲) ټریلیونه یا دوه زره دوه سوه میلیارډ ډالره بولي. البته، د تېري او اشغال دا ټول خرڅونه له هغو پور سوو او  ترګرده پور کېدونکو پیسو څخه ورکول کیږي، چي د ۲۰۰۳ع کال په مارچ کي له شپږ اعشاریه څلور ( ۶/۴) ټریلیون ډالرو څخه د ۲۰۱۲ع کال د اکټوبر تر اولي پوري و څه د پاسه شپاړسو( ۱۶) ټریلیونو ډالرو ته رسېدلي دي.[۱۰۳]

په دې ترتیب ګورو، هغه هیواد چي د بیل کلینټن تر دولتمشرۍ پوري یې په دولتي خزانه کي په سوو میلیارډ ډالره مازاد یا اضافي (surplus) پیسي زېرمه وې، اوس څه باندي شپاړس ټریلیون ډالره پوروړی دئ! لږ څه په غَوَر سوچ وکئ! ایا دا ملاماتونکي پورونه او دا ستر اقتصادي بحران د متحدو ایالتو له استعماري جنګو او ناروا لاسوهنو سره ارتباط نه لري؟!

د سلیم عقل خاوندان ټول په دې روښانه حقیقتو ښه پوهېږي؛ خو د افغانستان د ظالمانه اشغال له دوام، د لیبیا له وحشیانه یرغل، د سوریې له خونړیو لاسوهنو او د نړۍ د ډېر نورو هیوادو، په تېره بیا ایران پر ضد د تبلیغاتي او اقتصادي جنګ له تیاریو څخه په ډاګه ښکاري، چي متحدو ایالتو او د هغو لوېدیځو شریکانو نه یوازي په روانو استعماري ماجرا غوښتونکو کي له خپلو انساني تلفاتو او سترو مالي تاوانو څخه هیڅ پنیات نه دئ اخیستئ، بلکي تر پخوا یې نور زور ور کړئ دئ. د دې جنایتکارانه بې پروایی علت ښیله شکه دا دئ، چي د استعماري جګړو انساني تلفات، اقتصادي خسارات، طبیعي اثرات او بالاخره دردونکي سیاسي، اجتماعي او فرهنګي عواقب ګرده د دغو هیوادو د بېوزلو او نېستمنو خلګو په تقدیر کي کښل سوي دي. موږ ټول ګورو، چي د جنګ او تېري په هره جبهه کي د همدې بې وسو او بېوزلو خلګوویني تویېږي؛ لوږي مالیي د دوی له جیبه اخیستل کیږي؛ له کار او روزګاره دوی شړل کیږي؛ د هري ورځي په تېرېدو سره د دوی بشري حقوق او ټولنیز تأمینات محدودیږي؛ اعتراضي غونډې او مظاهرې د دوی په وینو لړل کیږي؛او د ډېرو نورو اقتصادي، فرهنګي، اجتماعي او سیاسي کړکېچنو اصلي قربانیان هم یوازي او یوازي همدا خوار او نتلي خلګ دي. هر وخت او هر چیري د استعمارګرو جنګو او لاسوهنو لګښتونه او مصیبتونه د همدې غریبو او مظلومو خلګو پر اوږو پراته دي. په دې یرغلګرو جنګو او اقتصادي بحرانو کي د هیڅ دولتي یا حکومتي مشر، هیڅ وزیر یا سفیر، هیڅ جنرال یا کوتوال، هیڅ پارلماني وکیل، سناتور یا نورو سیاسي واکمنانو اولادونه نه دي وژل سوي یا ټپي سوي او نه یې و هیڅ راز اقتصادي ګټو ته زیان رسېدلئ دئ. برعکس، په دغه راز استعماري جګړو او اقتصادي بحرانو کي د استعمارګرو دولتو و سیاسي مشرانو ، پوځي واکمنانو ، د نظامي- صنعتي کمپلیکسو برخه والو او اقتصادي مافیاوو ته تر بل هر وخت زیاتي ګټي وټي په لاس ورځي. که یو

څه ځیر سو له ورایه ګورو، چي ټول استعماري یرغلونه او تاړاکونه په حقیقت کي د همدغو شخصي، ګروهي، ګوندي او بالاخره انحصاري ګټو د ترلاسه کولو، خوندي کولو او پراخولو دپاره کیږي. په دې خبرو د هر چا سر خلاصیږي،که لاسوهني، یرغلونه او جنګونه نه یې د امریکایي او اوروپایي شرکتو و انسان وژونکو وسلو ته به چیري او څنګه بازارونه پیدا کیږي؟! د نړۍ و لویو انحصاري شرکتو ته به تېل، قیمتي ډبري، فلزات او نوري طبیعي زېرمي څنګه او له کمه ځایه برابریږي؟! او بالاخره په اشغال سوو او اېل سوو هیوادو کي به د مزدورو نظامو او نورو استعماري پروژو و تحقق ته څنګه لار هواریږي؟! ایا دا واقعیتونه ګرده نه ښیي، چي یرغلونه، لاسوهني او اشغالګرۍ د استعماري نظامو د پایښت مهم او اساسي وسایل دي. له دې انساني ضد وسایلو څخه کار اخیستنه په خپله و داسي انساني ناورینو او مصیبتو ته لار هواریي، چي بشري ضد او جنګي جنایتونه یې یوه کوچنی برخه ده. اوبوغریب، بګرام، ګوانتنامو او په افغانستان، عراق، لیبیا، یمن، سومالیا، سوریې او داسي نورو هیوادو کي زړه لړزونکي بشري ضد او جنګي جنایتونه ټول د استعماري دولتو د یرغلګرو جګړو، لاسوهنو او لمسوونو شرمووونکي پیداوار دي.

امریکا او متحدینو له ترووریزم او افراطیت سره د مبارزې تر درواغجن پوښ لاندي په افغانستان، عراق، یمن، سومالیا او ځینو نورو هیوادو کي استعماري یرغلونه او جنګونه پیل کړل؛ او په ځینو نورو کي د پیل کولو پلانونه جوړیږي؛ خو موږ او نړیوال ټول شاهدان دي، چي استعمارګرو دولتو د تروریستي او افراطي ډلو ټپلو د ځبلو او کابوکولو پر ځای په واقعیت کي و هغوی ته د وحشت او افراطیت ښې ورشوګاني پرانیستي؛ او ترګرده یې و نورو هیوادو او نورو وچو ته غزیي. لیبیا او سوریه یې تر ټولو روښانه مثالونه دي. د چرګو او چوغکو ویني تویول دونه اسانه نه دي لکه د بې ګونا او بې دفاع انسانو ویني، چي شپه و ورځ د دین، مذهب، قوم، ژبې، سیاسي او ایډیالوژیکو اختلافو په نامه بهیږي. زموږ په وران او جګړو ځپلي هیواد کي له تېرو څه باندي یوولسو کالو راهیسي د کرزي، فهیم، خلیلي، اسماعیل، دوستم، محقق، سیاف، عبداله، ضیا مسعود، معلم عطا، امرالله او داسي نورو جنایتکارانو، غاصبانو، غلو او جاسوسانو سیاسي، پوځي او مالي ملاتړ په څه مانا دئ؟! ایا په ټولو امکاناتو د دې بدنامو څېرو او جنایتکارو ډلو ټپلو سیله او پلوي په بشري حقوقو، اولسواکۍ او عدالت ډرۍ وهل نه دي؟! ایا په افغانستان او داسي نورو استعمارځبلو هیوادو کي د دغه راز بې رحمه جنګي ډلو ټپلو، شرمېدلو معامله ګرو، غلو او غاصبانو واکمنول او هر اړخیز ملاتړ په خپله د امریکا او متحدینو تر ټولو لوی بشري جنایت نه دئ؟! مګر و دغه راز بدنامو جنایتکارانو ته د دیرشو میلیونو مظلومو افغانانو د ژوند واګي سپارل و لېوانو او شرمښانو ته د رمې له سپارلو سره مترادف نه دي؟! ایا د دېرشو میلیونو پتمنو او نجیبو افغانانو په حق کي تر دې لوی او خطرناک بشري جنایت تصور کېدای سي؟! ایا زموږ تاریخي هیواد د دې جنایتکارو او خاینو ډلو ټپلو په لېونیو غوبلو کي د مځکنی بشپړتیا، ملي واکمنی، سیاسي خپلواکۍ، عدالت او پرمختګ مخ لیدای سي؟! که د امریکا او متحدینو توپ و ټانک نه وای، کرزي او نورو مزدورانو به څنګه د خاینانه معاملو په بدل کي له پردو جاسوسي سازمانو څخه توري پیسي اخیستلای؛ او د تاریخي شېرپور په ګډون به څنګه په سپینه ورځ زموږ د هیواد میلیونونه جریبه دولتي او شخصي مځکي د مزدورو زورواکانو له خوا اولجه کېدلای؟! بالاخره که د امریکایي او ایتلافي لښکرو کرغېړن سیوری نه وای نن به ولي د خاینو او جنایتکارو واکمنانو له شامته په درست هیواد کي د ناامنی، مخدره موادو، غلا، فساد، لوږي، بېکاري، بېکورۍ، بېغَوَرۍاو شلو نورو ناخوالو محشر جوړ وای؟! دا د چا ګونا ده، چي زموږ ویاړلي هیواد، ګران افغانستان، نن د مخدره موادو په تولید او فساد کي د نړۍ له ټولو هیوادو څخه لومړی مقام ګټي؟! ایا هر څه د امریکا، متحدینو او مزدور رژیم پر جنایتو، خیانتو او بې کفایتییو شاهدي نه ور کيي؟! ایا دا ټولي بلاوي او مصیبتونه له یوه ځایه نه دي

نازل سوي؟! ایا قاتلان، جلادان، غاصبان، غله، جاسوسان، د مخدره موادو سوداګران، فساد او بې کفایته واکمنان او نور بدو بلا ټول په یوه او بل رنګ د استعمار په لکۍ نه دي تړلي؟!

په دې ترتیب نو هر څوک ګوري، چې په افغانستان، پاکستان، عراق، یمن، سومالیې، لیبیا، سوریې او ځینو نورو هیوادو کې د روانو انساني ناورینو او بدمرغییو مسوولیت مستقیماً د یرغلګرو دولتو پر اوږو پروت دئ. البته، د استعماري جنګو او لاسوهنو دا وحشتناکه لړۍ په دغو هیوادو کې پای ته نه رسیږي؛ ځکه« له تروریزم او افراطیت سره جګړه» په واقعیت کې د درستې نړۍ د سوکه سوکه لاندې کولو او په لوېدیځو او مزدورو هیوادو کې د پولیسي نظامو د راوستلو او مزبوتولو غوولونکي پلمه ده. تر هغه مهاله، چې په نړیوال ډګر کې د قواوو انډول په اوسنۍ بڼه دوام ولري، د استعماري ځواکو له خوا به د نړۍ پر خپلواکو هیوادو د وسله والو یرغلو سلسله هم همداسې روانه يي. خوارځواکي افریقایي هیوادونه، کیوبا، وینزویلا او ایران خو څه چې روسیه او چین غوندې لوی او پیاوړي دولتونه یې هم له شیطاني لاسوهنو او حتا ښکاره حملو څخه خوندي نسي پاتېدلای. هر ځای به مځکه د بې ګونا انسانانو په وینو سره کیږي؛د ورانۍ او تباهۍ لمبې به و اسمانو ته پورته کیږي؛ د سولې، امنیت، ازادۍ، بشردوستۍ، اولسواکۍ او ټولنیز عدالت اوازونه به په ستوني کې خپه کیږي... دا ټولي خبري به یو په یو د عمل جامه اغوندي،که د نړۍ خپلواک دولتونه، ویښ، روښانه او سوله دوسته قوتونه ګرده په یوه وجود او یوه اواز له همدې شیبې څخه د استعمارګرو دولتو او بېلابېلو تروریستي ډلو ټپلو د انساني فاجعو پر خلاف د نه ستړي کېدونکي او پرله پسي مبارزې په ګډ مورچل کې و نه دربیږي؛او په سربښندنو سره د زور او وحشت د خدایانو مخه و نه نیسي.

---

**لمنلیکونه**

[102] ——,“Operation Enduring Freedom/Afghanistan and Operation Iraqi Freedom”: iCasualties.org

[103] Tanya Cariina Hsu, “Was it worth it? Afghanistan 11 years later”, October 08, 2012, Global Research: http://www.globalresearch.ca/was-it-worth-it-afghanistan-11-years-later/

پای